د اوداسه طریقه



لمونځ په غیر د اودس نه نه صحیح کیږی، او په پاکو اوبو باندی اودس کول لازم او ضروری دی، او پاکی اوبه هغی ته وائی چه په خپل اصلی خلقت باندی پاتی وی، لکه د سمندر، کوهیانو، چینو، او نهرونو اوبه.
پاملرنه: لږی اوبه مجرد د پلیتی او نجاست د ګډیدو په وجه پلیتیږی، او ډیری اوبه هغه دی چه د (۲۱۰) لترو نه زیاتی وی، تر هغه وخت پوری نه پلیتیږی، تر څو دغه نجاست د اوبو رنګ یا خوند او یا بوی بدل کړی نه وی.



د اودس شروع به په بسم الله باندی کوی، او په هر اودس کښی د مروندونو پوری دلاسونو پریمنځل مستحب دی، لیکن د هغه چا لپاره د لاسونو پریمنځل ضروری دی چه د خوب نه راپاڅیږی.
ملاحظه: د اوداسه د ټولو اندامونو پریمنځل د دری ځلی نه زیات مکروه دی.



بیا به خوله پریمنځی لیکن یو کرت (ځل) واجب دی، او دری کرتی (ځلی) غوره دی.
ملاحظه: ۱ــ د مضمضی (د خولی د پریمنځلو) په وخت کښی فقط خولی ته اوبه اچول او بیا تری ویستل کافی نه دی، بلکه په خوله کښی د اوبو ښوروول ضروری دی. ۲ــ د خولی د پریمنځلو په وخت کښی د مسواک استعمالول مستحب دی.



بیا به پوزی ته اوبه اچوی لیکن یو کرت (ځل) واجب دی او دری کرتی (ځلی) غوره دی.
ملاحظه: مجرد پوزی ته اوبه داخلول کافی نه دی بلکه په تنفس سره د پوزی منځ ته د اوبو رابښکل او بیا ئی خارجول ضروری دی، بیا یو کرت پوزی ته اوبه اچول واجب دی او دری کرتی غوره دی.



بیا به مخ پریمنځی لیکن یو کرت پریمنځل ئی واجب دی، او دری کرتی مستحب دی.
او د مخ هغه حد او مقدار چه پریمنځل ئی فرض دی: په عرض سره د یوغوږ نه نیولی د بل غوږ پوری دی، او په اوږدوالی سره د زنی نه نیولی د ویښتو د شنو کیدو تر ځای پوری دی.
ملاحظه: د ګنې ږیری تخلیلول (خلالول) مستحب دی او د رنګی (سپکی) ږیری تخلیلول واجب دی.



بیا به خپل لاسونه د ګوتو نه نیولی تر څنګلو پوری پریمنځی، لیکن یو ځل پریمنځل ئی فرض دی او دری ځلی مستحب او غوره دی.
ملاحظه: په پریمنځلو کښی د ښی لاس مخکی په چپ لاس باندی سنت دی.



بیا به ټول سر مسحه کړی او خپلی دوه سبابی (کنځلو) ګوتی به د غوږونو په سوریو کښی داخل کړی او په غټو ګوتو به د غوږونو ښکاره طرفونه مسحه کړی، او مسحه به صرف یو کرت کوی.
ملاحظه: ۱ــ د سرهغه برخه چه مسحه کول ئی فرض دی د تندی نه نیولی تر څټه پوری ده.
۲ــ په هغی ویښتو باندی مسحه کول فرض نه دی کوم چه زنګیږی (خوړنده وی). ۳ــ کله چه ویښته نه وی نو د سر په پوستکی به مسحه کوی. ٤ــ د غوږونو شاته چه کوم سپین ځای ښکاری هغه به هم مسحه کوی.



بیا به د ګټو (بجلکو) پوری ښپی پریمنځی لیکن یو ځل پریمنځل ئی فرض دی او دری ځلی مستحب دی.

ضروری لاربښودنی: ۱- د اوداسه اعضاء (اندامونه) څلور دی:
أ) د خولی، پوزی او مخ پریمنځل. ب) د لاسونو پریمنځل. ج) د سر او غوږونو مسحه کول. د) تر ګټو (بجلکو) پوری د ښپو پریمنځل. اوپه ترتیب سره د دی اندامونو پریمنځل فرض دی، او په دی کښی د یو اندام مخکی کول په بل باندی اودس فاسدوی.
۲- په پرله پسی او متصله توګه د اندامونو پریمنځل فرض دی او که څوک دومره تاخیر وکړی چه مخکنی اندام وچ شی نو بیا اودس فاسدیږی.
۳- د اودس نه وروسته د دی دعاء ویل سنت دی: ((أَشْهَدُ أَنْ لا إِلهَ إِلا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ)) دا ګواهی کوم چه بیله یو الله بل دعبادت وړ او حقدار معبود نشته او محمد ﷺ د الله تعالی بنده او پیغمبر دی.